مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۴/۲۲

د کره کتونکي کومه خبره ومنو؟

ښاغلي اېمل پسرلي د ګران بريالي جلالزي په دې کيسي باندې نقد کړی و:

د خدای په نامه

پر ترازو يې پيسې وهلې.

_ دسلاف، دسلاف، دسلاف

بوډی ښځه دوکان ته رانغوته. د زېړې چادرې له سوريو يې د کميس ګلان ښکارېدل. دوکاندار ته يې لاس اوږد کړ.

_ خيرااااات.

سړي په خپلې سپينې ږيرې لاس تېر کړ.

_ دعا وکړه.

صدقه رد بلا ده. خير راکه، د خدای په نامه.

_ تورې دعا وکه، دسلاف مې نه دی کړی.

_ د يوې ډوډۍ پيسې خو راکه، بچيان مې وږي دي، خدايکه يې له سهاره راهيسې سپېره ګوله تر ستوني تېره کړې وي. ....

غريو ونيوله. بوډا له ځان سره وښګېد. د ترازو بېخ ته پرتې وسپنيزې پيسې يې په ګوته هاخوا دې خوا کړې. يوه افغانۍ يې په کې ومونده، ښځې ته يې کړه:

_ واخله، دعا وکه. چې بيا رانسي.

څو دقيقې وروسته بلې ښځه دوکان ته رانغوته. چادرې غوندې يې شنې پنجابي جامې اغوستې وې.

_ خيرات.

سپين مړوند يې د بوډا پر وجود لړزه خوره کړه. د ترازو خوا ته يې لاس اوږد کړ، چې پيسې راواخلي. لاس يې له ترازو ولګېده.

کرنګګګګګ.

ژر يې ښځې ته وکاته. لاس يې لا هماغسې اوږد نيولی و. يوه شېبه يې ورته وکتل. پنځه ګون يې ښرته په دخل کې واچاوه. پنځوسی يې راواخست. ښځې ته يې ونيو، هغې لاس ور وغځاوه، بوډا د هغې سپينې ګوتې ټينګې کړې او موسک شو.

***

د ښاغلي اېمل پسرلي نقد

دلته دوکاندار سپين ږيرې دی. کيسه په شنه سهار پيښه شوې ده. " دسلاف" اصطلاح د لومړني پېرونکي لپاره کاريږي نو بايد دوکان نوی پرانيستل شوی وي. وخت ځکه مهم دی چې د انسان پر حرکت او عمل اغيز پرېباسي. غرمه مهال کوڅې تشې وي، دوکاندار يوازې وي، ښايي زړه ته يې شيطان لار وکړي خو په شنه سهار چې لا سړی پوره وېښ نه دی، بيا له يوه سپين ږيرې، ايا دغه عمل داستاني منطق ايجابوي؟ که چېرې دوکاندار ځوان وای عيب به يې څه وای؟ ايا دغه دوکاندار يوه شېبه کنجوس او بله شېبه ډېر سخي شوی نه دی؟ تر پنځوسو افغانيو د پنځو افغانيو ورکړه غوره نه وه؟ په دواړو حالاتو کې به لوستونکی پوه و چې په سپين رنګې ښځې دوکاندار ډېر لوريدلی دی، خو د پنځوسو افغانيو ورکړه مبالغه ده، هغه هم داسې مبالغه چې کيسې ته ګټه نه لري يا پر کيسې څه نه ورزياتوي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د کيسې نوم" د خدای په نامه" ښايي هغه وخت لا ډير پر ځای وای چې دوکاندار خدای ته نژدې راښکاره شوی وای. مثلاً د دوکان له راډيو يا ټيپه يې د قران شريف تلاوت اوريدلی. دا کار عقل هم مانه، د افغانستان ډير دوکانداران سهار همداسې کوي. د دوکاندار عمر هم له دغه کار سره اړخ لګاوه.

***

تر نقد وروسته، بريالي جلالزي خپله کيسه له سره داسې وليکله

د خدای په نامه

پر ترازو يې پيسې وهلې.

_ دسلاف، دسلاف، دسلاف

بودۍ ښځه دوکان ته رانغوته. چادرۍ ته يې يو د ډوډۍ پينه نه وه ورکړې. دوکاندار ته يې لاس اوږد کړ.

_ خيرااااات.

سړي په خپلې سپينې ږيرې لاس تېر کړ.

_ دعا وکړه.

صدقه رد بلا. خير راکه، د خدای په نامه.

_ تورۍ دعا وکه، دسلاف مې نه دی کړی.

_ د يوې ډوډۍ پيسې خو راکه، بچيان مې وږي دي، خدايکه يې له سهاره راهيسې سپيره ګوله تر ستوني تېره کړې وي. ....

غږيو ونيوله. بودا له ځان سره وښګېد. د ترازو بېخ ته پرتې وسپنيزې پيسې يې په ګوته هاخوا دې خوا کړې. يوه افغانۍ يې پکې وموندې، ښځې ته يې کړه:

_ واخله، دعا وکه. چې بيا رانسې.

څو دقيقې وروسته بلې ښځه دوکان ته رانغوته. چادرې غوندې يې شنې پنجابي جامې اغوستې وې.

د خريدار ګمان يې پرې وکړ. د تلاوت غږ يې ورو کړ. ښځې لاس اوږد کړ.

_ خيرات.

سپين مروند يې د بودا پر وجود لرزه خوره کړه. وارخطا شو. د ترازو خوا ته يې لاس اوږد کړ، چې پيسې راواخلي. لاس يې له ترازو سره ولګېده.

کړنګګګګګ.

ژر يې ښځې ته وکاته. لاس يې لا هماغسې اوږد نيولی و. يوه شېبه يې ورته وکتل. پنځه ګون يې ښرته په دخل کې واچاوه. شلګون يې راواخيست. ښځې ته يې ونيو، هغې لاس ور وغځاوه، بودا د هغې سپينې ګوتې ټينګې کړې او موسک شو.

***

اوس راځئ دا وګورو چې بريالي جلالزي د اېمل پسرلي کومې خبرې منلې او کومې يې نه دي منلې.

وخت: اېمل پسرلی وايي چې سهار سړی سم ويښ نه وي، شيطان ورته لنډ نه وي خو غرمه کوڅې تشې وي، شيطان سړی ګناه ته لمسوي. د ده په باور بايد په داسې کيسو کې غرمه غوره شي خو بريالي هماغه سهار ټينګ کړی. فکر کوم چې اېمل پسرلی ماشومتوب او نوي زلميتوب په پېښور کې تېر کړی. هلته ګرمې ډېره وي نو غرمه د ګرمۍ په وجه خلک کورونو ته پناه وړي او په کوڅو او بازارونو کې خلوت وي خو افغانستان داسې نه دی. دلته معمولاً سهار وختي دوکانونو ته خال خال مشتريان ورځي خو څومره چې ورځ تېرېږي، هماغومره ګڼه ګوڼه زياتېږي. مخصوصاً د کابل بازارونه ان مابنام هم داسې خلوت نه وي لکه څنګه چې سهار وختي کې وي. له بلې خوا په کيسه کې موسم نه دی ياد شوی. په مني او ژمي کې خو غرمه چې هوا ګرمه شي بازارانو تودېږي. ممکن بريالي جلالزي په همدې دليلونو د کره کتونکي دا نظر نه وي منلی.

د کرکټر عمر: اېمل پسرلی وايي که په کيسه کې د سپين ږيرې پر ځای ځوان دوکاندار وای نو عيب به يې څه و؟ مور له ځوانه د ډېرې تقوا توقع نه لرو خو له سپين ږيرې يې لرو. که ځوان عياشي وکړي هغومره بد نه برېښي لکه څومره چې بودا ورسره بد ښکارېږي.

سخاوت او کنجوسي: پنځوسی که شلګون؟ اېمل پسرلی نيوکه کوي چې کرکټر ولې يو ځل کنجوس او بل ځل سخي ښودل شوی، ولې دوکاندار ځوانې سوالګرې ته د پنځوسې پر ځای پنځه ګون نه ورکوي؟ بريالي جلالزي لکه دوکاندار چې په بيه کې چنه وهي او بيا د خپلې او د مشتري د ويلو بيو اوسط ته غاړه ږدي، نه خپل پنځوس ټينګوي او نه د اېمل پسرلي پنځه مني، ده شلګون غوره ګڼلی دی. زما په نظر د پنځو او پنځوسو تر منځ لس واړي توپير شته. دوکاندار پنځه ګون بېرته په دخل کې اچوي او پنځوسی راباسي. لس، سل او زر پوره اعداد دي، مټريک سيستم پر همدغو اعدادو تکيه کوي او خولې ته هم اسانه راځي. مور وايو سل واړي مې درته وويل. مور له دغو عددونو سره عادت شوي يو ځکه خو لس ګنه، سل ګنه او زر ګنه زيات هم راته ښه برېښي. که زه د جلالزي پر ځای وای نو پنځوسی به مې په

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

شلګون نه بدلاوه. د يوې او پنځه افغانيو تر منځ توپير دومره زيات نه دی چې د دوکاندار عياشي وربانديِ جوت ښکاره شي. دا د دوکاندار سخاوت نه بلکې د شهوت صدقه ده.
په دوکان کې د تلاوت غږ: اېمل پسرلي ويلي که چېرې له دوکانه د تلاوت غږ راشي نو د دوکاندار دغه بې باکي له ديندارۍ سره د تضاد په خاطر لا جوتېږي. بريالي دغه وړاندېز منلی او په ښه توګه يې په کيسه کې راوړی دی. ځنګه چې تور داغ په سپين ټوکر کې ډېر واضح ښکارېږي هماغسي بد کارونه هم په داسې ماحول کې چې مقدس شيان په کې وي، لا جوت معلومېږي.
بريالی جلالزی خورا ځوان کيسه ليکوال او اېمل پسرلی لوی ليکوال او نقاد دی خو بيا هم جلالزي د پسرلي ټولې نيوکې نه دي منلې.
نو پوښتنه پيدا کېږي چې د کره کتونکي کومه خبره ومنو؟
زه داسې ليکوال پېژنم چې په افغان ادبي بهير کې يې کيسې کره کتنې ته وړاندې کړې دي، هلته د استاد اسدالله غضنفر په شمول ډېرو کره کتونکو مشورې ورکړې دي خو دوی بيا خپلې کيسې په هماغه لومړنۍ بڼه چاپ کړې دي. که سړی په خپل اثر باندې ډاډه وي چې هر څه يې سم دي نو ولې به يې کره کتنې ته وړاندې کوي؟ د کره کتونکو ټولې خبرې يو مخ بابېزې ګڼل هغوی ته سپکاوی دی.
خو که سړی د کره کتونکو ټولې خبرې ومني او د دوی په وينا د خپل اثر نقشه بيخي واړوي نو ښکاري چې له ځانه هېڅ فکر او رايه نه لري. ليکوال بايد د خپلې ليکنې لپاره کافي دلايل ولري او که د ده يو نيم دليل سم نه وي نو د اثر هماغه ځای دي د نقاد په وينا بدل کاندي. ښاغلي بريالي جلالزي همدغسې کړي دي او په دې خاطر يو ځل بيا زما خوښ شو.
دا سمه ده چې هېڅ اثر تر نقد پورته نه دی خو دا هم سمه ده چې هر کره کتونکی انسان دی او انسان له خطا خالي نه وي، د کره کتونکي نظر د يوه انسان نظر دی او حتمي نه ده چې سم دې وي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ